مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۰۸/۱۷

# غزل

کاش چې گل ستا د اوربل وای
یا دې سترګو کښې کجل وای

ستا د تورو زلفو تور وای
ته ګلشن او زه بلبل وای

ستا کوڅه، زما کچکول وای
خیر که خوار لکه کابل وای

ستا د مات بنګړي کیسې وای
او په خوند مو پیل مزل وای

د سرو شونډو په مسکا کښې
پټ سالو لاندې کتل وای

د وصال جام او مستي وای
پسرلی وای او ګډ ښنبل وای

مصطفی پسرلی

17/08/2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ